# د پښتو نظم لیکلو لنډ لارښود





لیکونکی : عبدالعلي رسول زاده

# د عنوانونو فهرست


| شمېره | عنوانونه | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | تر پیل د مخه خبري | الف |
| ۲ | پښتو نظم | ۱ |
| ۳ | سېلاب ، قافیه او ردیف | ۳ |
| ۴ | سېلاب | ۳ |
| ۵ | سېلاب څرنګه جوړېږي | ۳ |
| ۶ | لومړی تمرین | ۹ |
| ۷ | دوهم تمرین | ۹ |
| ۸ | درېیم تمرین | ۱۱ |
| ۹ | د سېلاب برابرولو لپاره مرستي | ۱۱ |
| ۱۰ | قافیه | ۱۹ |
| ۱۱ | د قافیې لپاره مهم ټکي | ۲۳ |
| ۱۲ | پښتو (ی) ګاني | ۲۳ |
| ۱۳ | پښتو (و) | ۲۶ |
| ۱۴ | پښتو (ه) | ۲۶ |
| ۱۵ | خج | ۲۷ |
| ۱۶ | نظم او د ژبي ګرامر | ۲۸ |
| ۱۷ | څلورم تمرین | ۲۹ |
| ۱۸ | ردیف | ۲۹ |
| ۱۹ | پنځم تمرین | ۳۰ |
| ۲۰ | شپږم تمرین | ۳۱ |
| ۲۱ | د پښتو شعر ډولونه | ۳۲ |
| ۲۲ | لنډۍ | ۳۲ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۳ | اوم تمرين | ۳۳ |
| ۲۴ | غزل | ۳۳ |
| ۲۵ | اتم تمرين | ۳۵ |
| ۲۶ | مثنوي | ۳۶ |
| ۲۷ | نهم تمرين | ۳۹ |
| ۲۸ | آزاد شعر | ۳۹ |
| ۲۹ | د انسان پر احساساتو د شعر اغېزه | ۴۱ |
| ۳۰ | د تمرينونو جوابونه | ۴۶ |

# بسم الله الرحمن الرحیم

## تر پیل د مخه خبري

د لومړي ځل لپاره دغه لیکنه ما عبدالعلي رسول زاده څو کاله مخکي په سویډن کي د پښتو ژبي د زدکوونکو لپاره و کړه. په لیکنه کي مي ډېر کوښښ و کړ چي اشعار ئې ډېر ساده او اسانه وي. کله چي دغه لیکنه شا و خوا په هیواد کي دننه او بهر نورو هیواد والو ته و رسېده، هغوی ئې هم د لوستلو سره مینه و مونده. د دې لپاره چي دلته مي د دغو زدکوونکو او هلته د نورو لوستونکو اړتیاوي په نظر کي نیولي وي، په هغه پخوانۍ لیکنه کي مي لږ تغییرات را وړل. دا مي هم غوره و بلل چي که دغسي معلومات د هیواد په ښوونځیو کي هم تدریس سي ډېره ګټه به و رسوي.

په ښوونځي کي د لوست په جریان کي زدکوونکي د را تلونکو ټولګیو د نویو مضمونو خبري د تر مخنیو ټولګیو د زدکوونکو څخه اوري او هغو ته تیاري نیسي. د مثال په توګه په درېیم ټولګي کي اوري چي په څلورم ټولګي کي څو نوي مضمونونه را منځته کیږي. هغه لکه تاریخ، جغرافیه، دري او هندسه. سربېره پر دغو مضامینو په ریاضي کي د کسر زدکړه هم منځته را ځي او په نورو ټولګیو کي داسي نور. په لسمه ټولګۍ کي په پښتو

کي بديع او بيان د نوي مضمون په توګه منځته را ځي.

زدکوونکي داسي ګومان کوي چي بديع او بيان نو د نظم د ليکلو لاري زدکوونکو ته ور زده کوي.

کله چي ښوونکی په بديع او بيان پيل و کړي نو هلته د نظم يا شعر د مختلفو ډولونو په اړه خبري را پيل کي. هغه لکه: المشجر، ښه او بد، اغراق، غلو او داسي نور. دا چي زدکوونکي په خپله د نظم يا شعر په تخنيک کي معلومات نه لري، د نظم د دغو ډولو زدکړه کومه مرسته ور سره و نه کړي.

ما د ښوونځي د خپلو تجربو له را يادېدو څخه هم اړينه و بلله، چي دا به ښه وي، چي که زدکوونکي لومړی د شعر په تخنيک يا جوړښت و پوهيږي بيا به د شعر مختلف ډولونه ور ته اسان وي.

د دغي ليکني لپاره مي لومړی د پښتو ژبي د تکړه شاعر او ليکوال ښاغلي عبدالباري جهاني څخه غوښتنه و کړه چي په دې برخه کي زموږ سره مرسته و کړي. هغه هم زما د غوښتني سره سم د سېلاب، قافيې او رديف په اړه ما ته خپله درې پاڼي ليکنه را کړه. هغه ليکنه مي د زدکوونکو د سويې او اړتياوو سره په لاندي ډول برابره کړه اوس غواړم چي د لوستونکو سره کار پر و کړم.

دغه لیکنه به شاید درې کتګورۍ لوستونکي و لولي.

لومړۍ کتګوري به هغه لوستونکي وي، چې په ښه توګه پښتو نظم وايي او لیکي اما د نظم د تخنیک په اړه پوره معلومات نه لري. دغه لیکنه به د هغو کسانو سره هم یو څه لا نوره مرسته و کړي.

دوهمه کتګوري به هغه کسان وي چې نه شعر لیکلای سي او نه ئې د شعر منظم تخنیک زده وي. د دغي لیکني له لاري به لومړی د نظم تخنیک زده کړي او بیا به د شعر په لیکلو پیل و کړي.

درېیمه کتګوري به هغه کسان وي چې هم شعر لیکلای سي او هم ئې تخنیک زده وي. د دغو کسانو څخه زما هیله دا ده چې ځانته وخت ور کړي او تر دغه لاربښود لا څه نوري پېداګوژیکي لیکني و کړي او لوستونکو ته ئې د ګټې اخیستلو لپاره وړاندي کړي.

عبدالعلي رسولزاده
alirasulzada@hotmail.com
www.pashto.se
tel, 0046709384755

# پښتو نظم

نظم د ترتیب او ښه اوډلو په معنا دئ. زموږ د خلکو تر منځ دا خبره تل کیږي چې د پلاني په کور یا دکان کې هر څه پر نظم پراته دي. د دې خبري څخه مقصد دا دئ چې هر شی پر خپل ځای پروت دئ. یعني کتاب په الماری کې، کاسې او غابونه د کاسو او غابو پر ځای پراته دي او ګډوډي نه ده. د پورتنیو خبرو څخه په ګټه اخیستلو سره د کلمو اوډل په لیکنو او خبرو کې هم په دغه ډول تر نظم، اوډلو او ترتیب لاندي را تلای سي. په دغه تر تیب کومي خبري یا لیکني چې کلمې یا لغاتونه ئې یو د بل تر څنګ د یوې قاعدې له مخې په ښه ډول اوډل سوي وي هغو خبرو یا لیکنو ته منظمي خبري او یا منظم کلام یا منظمه لیکنه ویل کیږي. د نظم یا شعر په لیکلو کې یوائې د کلمو منظم ایښودل کفایت نه کوي بلکې د نظم خپلو خاصو توکو ته هم اړتیا ده، چې دلته لاندي به را سي.

دلته باید و وایو چې نظم ته شعر هم ویل کیږي او هره لیکه یا کرښه ئې د بیت په نامه یادیږي. بیت د دوو برخو څخه جوړ سوی وي چې هري برخي ته ئې نیم بیتی وایې لکه:
کاشکې جنګ او جګړې نه وای د هر چا پــه خوله خندا وای

پورتنۍ لیکه یو بیت دئ. دغه بیت د دوو برخو څخه جوړ سوی دئ چې هره برخه یې یو نیم بیتی دئ لکه:

لومړی نیم بیتی: کاشکي جنګ او جګړې نه وای
دوهم نیم بیتی: د هـــر چا پـــه خوله خندا وای

کېدای سي چي پورتنی بیت په دغه لاندي درو ډولو و لیکل سي:

الف:

کاشکي جنګ او جګړې نه وای د هـــر چا پـــه خوله خندا وای

ب:

کاشکي جنګ او جګړې نه وای
د هـــر چا پـــه خوله خندا وای

ج:

کاشکي جنګ او جګړې نه وای
د هـــر چا پـــه خوله خندا وای

د پورتنیو خبرو له مخي په پښتو کي هم د نورو ژبو په شان منظم (منظوم) کلام سته. دغه منظم کلام ته په ادبیاتو کي نظم یا شعر ویل کیږي. اوس به را سو دې ته چي د کلام دغه نظم څه شی دئ او څرنګه لیکل کیږي.

د دې لپاره چي د پښتو ژبي په نظم و پوهیږو نو تر هر څه له مخه باید د سېلاب، قافیې او ردیف په اړه معلومات تر لاسه کړو.

۱ - سېلاب
۲ - قافیه
۳ - ردیف

## ۱ ـ سېلاب:

سېلاب د هیجا یا څپې په نامه هم یادیږي او هغه توري یا ږغونه دي چې په ویلو سره ئې خوله یو ځل دریږي لکه: موږ، ته، هر، ښه، ورور، آ او نور. سېلاب کله کله یو توری وي، خو زیاتره وختونه سېلابونه له دوو یا څو تورو څخه جوړ وي. په پښتو کې سېلابونه د یوه، دوو، درو یا څلورو تورو څخه جوړ سوي وي.

نه یوائې نظمونه (شعرونه) د سېلابو څخه جوړ دي بلکي زموږ خبري هم د سېلابو څخه جوړي دي.

سېلاب څرنګه جوړیږي ؟

په هره ژبه کي سېلابونه د هغې ژبې د واول (ږغ لرونکو) تورو یا ښښي په مرسته جوړیږي. ږغ لرونکي توري (واول) چي سېلابونه جوړوي لکه: (ا، لنډ و[۱]، اوږد و[۲]، لنډه ي[۳]، اوږده ي[۴]) او ښښي چي ښېله مد څخه نوري نه لیکل کیږي اما

---

[۱]، [۲]، [۳] او [۴] په دې اړه د کتاب په پای کي معلومات تر لاسه کولای سئ!

تاثیر ئې په کلمه کي وي. نښې لکه: [زور ( َ)، زیر ( ِ) ، پېښ( ُ )، زورکی او مد ( ~ ) ].

کله کله سېلاب له یــوه تــوري څخه د [ (الف) یا (و) یا (ي) او یا (ې) ] په مرسته جوړ سوی وي لکه:
با ـ یو سېلاب دئ چي د (ب) څخه د (الف) په مرسته جوړ سوی دئ.

خو ـ یو سېلاب دئ چي د (خ) څخه د لنډ (و) په مرسته جوړ سوی دئ.

چي ـ یو سېلاب دئ چي د (چ) څخه د لنډي (ي) په مرسته جوړ سوی دئ.

دې ـ یو سېلاب دئ چي د (د) څخه د اوږدې (ې) په مرسته جوړ سوی دئ.

کله بیا دغه یو توری د یوې نښې (زور یا زیر یا پېښ یا زورکي او یا مد) په مرسته سېلاب جوړوي لکه:

آ ـ یو سېلاب دئ چي د (الف) څخه د (مد) په مرسته جوړ سوی دئ.

وَ ، بِ ، مُ ـ درې سره یو یو سېلاب دي چي د زور ، زیر او پېښ په مرسته جوړ سوي دي.

ـ هغه سېلابونه چي د دوو تورو څخه د يوه واول يا ږغ لرونکي توري په مرسته جوړ سوي وي لکه:
تور: يو سېلاب دئ چي د (ت) او (ر) څخه د اوږده (و) په مرسته جوړ سوی دئ.

لور (لکه د تره لور): يو سېلاب دئ چي د (ل) او (ر) څخه د لنډ (و) په مرسته جوړ سوی دئ.

مار: يو سېلاب دئ چي د (م) او (ر) څخه د (الف) په مرسته جوړ سوی دئ.

دين: يو سېلاب دئ چي د (د) او (ن) څخه د لنډي (ي) په مرسته جوړ سوی دئ.

ډېر: يو سېلاب دئ چي د (ډ) او (ر) څخه د اوږدې (ې) په مرسته جوړ سوی دئ.

ـ هغه سېلابونه چي د دوو تورو څخه د (زور، زير، پېښ يا زورکي) په مرسته جوړ سوي وي لکه:
وَر، لَر، بَر، مِر، پُل، تل (هميشه) او داسي نور.

هغه سېلابونه چي د درو تورو څخه جوړ سوي وي په داسي حال کي چي يو توری ئې ږغ لرونکی توری وي او د سېلاب په جوړښت کي رول و لري لکه:

مور: مور د (م، و او ر) څخه جوړه سوې کلمه ده. د (م او ر) تر منځ اوږد (و) واول توری دئ او دغه سېلاب ئې جوړ کړی دئ.

خور، شور، پور سېلابونه هم د پورته مثال په شان د اوږده (و) په مرسته جوړ سوي دي.

په شړک او پړَک کي که څه هم درې توري دي، خو سېلابونه ئې د (زورَ) په مرسته جوړ سوي دي.

هغه یو سېلاب چي د څلورو تورو څخه جوړ سوی وي لکه:
ورور، پلار، سپور، ترور او داسي نور.

یادښت: د ورور په کلمه کي لومړی (و) واول نه بلکي ساکن او کانسونانت (بې ږغه توری) دئ. یعني نه پر سر زور، نه زېر، نه پېښ او نه زورکی لري او نه پخپله واول او نه ئې تر وروسته بل واول را غلی دئ. دوهم (و) اوږد (و) او واول دئ چي سېلاب ئې جوړ کړی دئ.
پورتنۍ کلمې ټولي یو سېلابه کلمې دي.

دلته لاندي یو شمېر نور مثالونه لکه:
هغه کلمې چي د دوو سېلابو څخه جوړې سوي وي لکه:
سېلاب (سې ـ لاب)، لونګ (لَ ـ وَنګ)، باتور (با ـ تور)، آختر (آخ ـ تر) او نور.

هغه کلمې چي د درېيو سېلابو څخه جوړي سوي وي لکه:
پرزېدل (پُر ـ زې ـ دل)

خوځېدل (خو ـ ځې ـ دل)

آخرت (آ ـ خِ ـ رَت)

پروانه (پَر ـ وا ـ نَه)

ښوونځی (ښو ـ وَن ـ ځَی) او داسي نور.

په پرزېدل او خوځېدل کي (دل) يو سېلاب دئ چي پر (د) باندي ئې زورکی را غلی دئ. دا چي د زورکي لپاره د زور په شان کومه نښه نه لرو ځکه (د) ببله کومي نښي ليکل سوی دئ.

په اَنار کي دوه سېلابه دي. لومړی پر (اَ) زور يو سېلاب او په (نار) کي تر (ن) وروسته (الف) دوهم سېلاب جوړوي.

په (آس) کي د (الف) پر سر مد (آ) سېلاب جوړوي.

اوس به په شعر کي سېلابونه جلا کړو:

پـــر مـا ملګري دي ګران دوی دي پـــر مـا مهربان

پورتنی يو نظم دئ چي دوې جملې لري. دغه دواړي جملې د

يوه بيت په نامه يادېږي. هره يوه جمله ئې د يوه نيم بيتي په نامه يادېږي يعني:

(پــــر مــا ملګري دي ګران) لومړی نيم بيتی

(دوی دي پــــر مــا مهربــان) دوهم نيم بيتی.

د پورتني نظم سېلابونه په لاندي ډول جلا کوو:

پُـر ـ مـا ـ مَــل ـ ګَ ـ ري ـ دي ـ ګران (۷ سېلابه دي)

دوی ـ دي ـ پُر ـ ما ـ مِـهـ ـ رَ ـ بان (۷ سېلابه دي)

د يوه نظم (شعر) د سېلابونو د جلا کولو په وخت کي لومړی، لومړی نيم بيتی ګورو چي څو سېلابه دئ او بيا دوهم نيم بيتی ګورو چي څو سېلابه دئ. که د دواړو نيم بيتيو سېلابونه سره برابر ول نو وايو چي دغه شعر يو سم شعر دئ. په دغه شان د شعر تر پايه د ټولو نيم بيتيو سېلابونه به د شمېر له مخي سره برابر وي. راځئ چي په ګډه د يوه بل بيت سېلابونه جلا کړو!

مــوږ يو ځای لــــوبي کوو

کړو تــوپ بازي پر ميدان

موږ ـ يَو ـ ځای ـ لو ـ بي ـ کَ ـ وو (۷ سېلابه)

کړو ـ توپ ـ با ـ زي ـ پُر ـ مَي ـ دان (۷ سېلابه)

یو بل مثال:

که هر څو په سر د خیال دستار زرین ږدي
عاقبت بـه سـر د خـاورو پـر بالین ږدي

که ـ هر ـ څو ـ په ـ سر ـ د ـ خیال ـ دَس ـ تار ـ زَ ـ رین ـ ږدي
عا ـ قِ ـ بَت ـ به ـ سر ـ د ـ خاو ـ رو ـ پر ـ با ـ لین ـ ږدي

۱- تمرین: اوس تاسي په خپله دغه لاندنی بیت پر سپلابو و وېشئ! وروسته ئې د کتاب پای کي د جوابو له پاڼي سره و ګورئ!

کلـه سنـدري وایـو
خوشالـه ناست یو خندان

۲- تمرین: دغه لاندني بیتونه پر سپلابو و وېشئ!

## کـوتره

غـومبـر وهـه کوتري
نـځبـېـره بـخـتـوري
اواز دي خـوږ لګـیږي
زړګی مي پرې ښه کیږي
لـږ تـاوه شـه ګـډېږه
غـومبـر وهـه تـاوېږه

اوس به دلته لاندي یو داسي شعر را وړو چي د ټولو بیتو سپلابونه ئې سره برابر نه دي او په شعر کي ببخوندي یا بې موازنګي هم نه ده را غلې:

(۱) کـه خبـر مي شې لـه خـوږ زړګیه ته
که ـ خَ ـ بَر ـ مي ـ شې ـ دَ ـ خوږ ـ زَړ ـ ګَ ـ یه ـ ته (۱۱)

(۲) شپـه او ورځ بـه پـه نارو شې لکه زه
شپه ـ او ـ ورَځ ـ به ـ پـه ـ نا ـ رو ـ شې ـ لَ ـ که ـ زه (۱۱)

(۳) څـو تـاوونه باندي تېر شي چي پخیږي
څو ـ تا ـ وو ـ نه ـ بان ـ دي ـ تېر ـ شي ـ چي ـ پَ ـ خیـ ـ ږي (۱۲)

(۴) د پـخو پـه حـال خبر نـه دي اومه
د ـ پَ ـ خو ـ په ـ حال ـ خَ ـ بَر ـ نه ـ دي ـ او ـ مه (۱۱)

(۵) عـام عـالم لـه حقیقته خبر نـه شول
عام ـ عا ـ لَم ـ له ـ حَ ـ قیـ ـ قَ ـ ته ـ خَ ـ بَر ـ نه ـ شول (۱۲)

(۶) د تقـلید خنـدا کـوي لـکه کـانه
د ـ تَق ـ لید ـ خَنـ ـ دا ـ کَ ـ وي ـ لَـ ـ کـه ـ کا ـ نه (۱۱)

(۷) ګوره بیا د کوم کم بخت سړي په خوله شو
ګو ـ ره ـ بیا ـ دَ ـ کوم ـ کَم ـ بَخت ـ سَ ـ ړي ـ په ـ خوله ـ شو (۱۲)

(۸) سل ښکنځل را تـه کوي چي غواړم خوله
سل(۱) ـ ښکنـ(۲) ـ ځل ـ را ـ ته ـ کَ ـ وي ـ چي ـ غوا ـ ړم(۳) ـ خوله (۱۱)

---

(۱) (۲) (۳) په سل کي (س) په ښکنځل کي (ځ) او په ړم کي (ړ) زورکی لري. دا چي د زورکي لپاره موږ کومه نښه نه لرو ځکه دلته اشاره ور ته سوې ده.

د پورتني شعر په درېيم ، پنځم او اوم نيم بيتيو کي د سپلابونو شمېر ۱۲ دئ او په نورو ټولو نيم بيتيو کي ۱۱ دئ. کله چي دغه شعر وايو کومه بېخوندي نه پکښي معلومېږي. د دې معنا دا ده چي د شعر د ليکلو په وخت کي به د شعر روانۍ ته ګورو. يعني چي په شعر کي سکتګي نه وي را غلې.

۳ـ تمرين: د دغه لاندي شعر سپلابونه سره جلا کړئ!

نــن مــي بيا مارغــه د فکر دی په شور
پــــروازونـــه کــوي ځــي پـــه هــره لـور
نه پوهېږم څه ترې ورک دي او څه غواړي
چـــي تـــپوس کــوي لــه پـلي او له سپور
مـــا د عـــقل پـــه تـــار بند کړل پروازونه
ده د عـــقل مـــزي و شــــلـــول پــــه زور
کـــه هـــر څـــو بې لوړ پرواز نه ګرځومه
غـــورږ تـــه نـــه پـــرېږدي زمـــا پندونه نور

په شعر کي د سپلابو د برابرولو لپاره څو مرستندوی ټکي:
کله کله د شعر د ليکلو او يا لوستلو په وخت کي سړی د سپلاب د زياتوالي يا لږوالي له مشکل سره مخامخ کيږي. د دغي خبري معنا دا ده چي د شعر په يوه يا څو نيم بيتيو کي د سپلابو د لږ والي يا ډېـر والي پـه سبب په شعر کي بې خوندي

را ځي. د دغي ببخوندی د له منځه وړلو لپاره کېدای سي چي
د دغو لاندنيو کلمو مختلفو تلفظو ته ځير سو لکه:

(۱): (زْما)

(۲): (زَما) يا (زُما)

(۳): (وَيَل)

(۴): (وې)، (وېل) يا (وُل)

(۵): (چې) چي په اصل کي (چي ئې) دئ

(۶): (کې) چي په اصل کي (کي ئې) دئ

(۷): (کې) چي په اصل کي (که ئې) دئ

(۸): (ښې) چي په اصل کي (ښه ئې) دئ

(۹): (دې) چي په اصل کي (دي ئې) دئ

(۱۰): (زې) چي په اصل کي (زه ئې) دئ

(۱۱): (مې) چي په اصل کي (مي ئې) دئ

(۱۲): (نې) چي په اصل کي (نه ئې) دئ

(۱۳): (بې) چي په اصل کي (به ئې) دئ

پورتنۍ کلمې ځيني وختونه کېدای سي چي د شاعر د لهجې له
امله يوه يا بله و کارول سي.

دلته لاندي به هره هره کلمه  په يوه مثال کي راوړه سي:
(زما): دغه کلمه ځيني خلک د (ز) په وړغندي (غړوندي) يعني
سکون سره تلفظ کوي لکه: (زْما) چي يو سېلاب ده.

ځیني خلک ئې په پېښ او ځیني ئې په زور سره هم تلفظ کوي لکه: [ زُما ( زُ ـ ما ) ] یا [ زَما ( زَ ـ ما ) ] دغه دواړي کلمې دوه دوه سپلابه دي. دغه کار د شاعر سره د شعر د لیکلو په وخت کي او د سندرغاړي سره د سندري د ویلو په وخت کي د سپلاب د زیاتولو یا لږولو په برخه کي مرسته کولای سي. یعني که شاعر د شعر د لیکلو په وخت کي یوه سپلاب ته اړتیا ولري ( زْما ) تلفظ کوي او که دوو سپلابو ته اړتیا و لري ( زَما ) یا ( زُما ) ئې تلفظ کوي.

دلته لاندي به د هري کلمې څو مثالونه را وړل سي:

( ۱ ): د ( زْما ) ( چي یو سپلاب دئ ) مثال:

پر ببګانی مستی پښېمانه نه سې (۱۱ سپلابه)

زْما دي لمنه د خالو ډکه ده (۱۱ سپلابه)

په ( زما دي لمنه د خالو ډکه ده ) کي که ( زْما ) د ( ز ) په ورغندي یا سکون سره و وایو د دغه نیم بیتي د سپلابونو شمېر به ۱۱ وي او که ئې د ( ز ) په پېښ ( زُما ) یا د ( ز ) په زور ( زَما ) و وایو نو د سپلابونو شمېر به ئې ۱۲ سي. په دغه حالت کي به په شعر یا نظم کي به بې خوندي هم را سي.

( ۲ ): د ( زَما ) یا ( زُما ) ( چي دوه سپلابه دي ) مثال:

زړګيه ته يار نه صبرېږي کــه نه
زَما په حال هم څه خبرېږي که نه

د پورتني بيت سپلابونه:
زَړ ـ ګَ ـ يه ـ ته ـ يار ـ نه ـ صَبَ ـ رې ـ ږي ـ که ـ نه (١١ سپلابه)
زَ ـ ما ـ په ـ حال ـ هم ـ څه ـ خَبَ ـ رې ـ ږي ـ که ـ نه (١١ سپلابه)

که په دوهم نيم بيتي کي (زَما) په (زْما) يعني په ساکنه (ز) و ويل سي نو به يې يو سپلاب کم سي او په شعر کي به بې خوندي را سي.

اوس به په مختلفو شعرنو کي د (وَيل) چي دوه سپلابه دئ او (وېل، وې يا وُل) چي يو يو سپلابه دي تاثير و ګورو:
(٣): وَيَل:
چي غوټې پسې وهې په لاس به در شي
چا وَيَل چي په درياب کي ګوهر نه شته

د پورتني بيت سپلابونه:

چي ـ غو ـ ټې ـ پَ ـ سې ـ وَ ـ هې ـ په ـ لاس ـ به ـ دَر ـ شي (١٢ سپلابه)

چا ـ وَ ـ يَل ـ چي ـ په ـ دَر ـ ياب ـ کي ـ ګو ـ هَر ـ نــه ـ شته (۱۲ سپلابه)

که په پورتني بيت کي د (وَيَل) (دوه سپلابه) پر ځای (وېل، وې يا وُل) چي يو سپلابه کلمې دي راوړل شي نو به د شعر په دوهم نيم بيتي کي يو سپلاب کم سي او په شعر کي به ښکاره بې خوندي راسي.

(۴): وېل، وې يا وُل: لکه مېرمن زينبه چي وايي:
سحــرګــه وه د نـــرګــس لــېمه لانده (۱۱ سپلابه)
څاڅکي څاڅکي يې تر سترګو څڅېده (۱۱ سپلابه)
مـا وُل څـه دي ښکلې ګله ولـي ژاړې (۱۲ سپلابه)
ده وُل ژوند مي دئ يوه خولـه خندېده (۱۱ سپلابه)

د پورتني شعر په دريېم نيم بيتي کي که څه هم د وَيَل پر ځای يو سپلاب (وُل) را غلی دئ بيا ئې هم د سپلابو شمېر ۱۲ دئ. په داسي حال کي چي د لومړي، دوهم او څلورمم نيم بيتي د سپلابو شمېر ۱۱دئ بيا هم په شعر کي بې خوندي نه ده را غلې. که چيري د (وُل) پر ځای (وېل يا وې) را غلی وای نو به بيا هم هيڅ خبـره نــه وای. که چيري (وَيَل) را غلی وای نو ښکاره به شعر بې خونده سوی وای. دغه اړونه (بدلون) د ځينو منطقو په لهجو کي توپير لري. په ختيځه لهجه کي (وېل يا وې) او په لوېديځه کي (وَيَل يا وُل) ده.

(۵): (چې ئې) په (چې) ویل یا لیکل:

په ورځنیو خبرو کي د (چي ئې) ویل په (چې) یو مثال:
کتابونه چې راوړل موږ ټول خوشاله سولو.

دا جمله اصلاً کتابونه(چي ئې) را وړل موږ ټول خوشاله سولو.

اوس به ئې د میرزا حنان په یوه شعر کي و ګورو (م هـ):

د فلک د باغوان لاس د پرېکېدو دئ (۱۲ سېلابه)
پــــر جهان چـــې د بېلـــتون تخم کاره (۱۱ سېلابه)

وینو چي د لوړ بیت په لومړي نیم بیتي کي ۱۲ سېلابه او په دوهم نیم بیتي کي ئې ۱۱ سېلابه دي. یعني کېدای سوای چي د (چې) پر ځای (چي ئې) را غلي وای، مګر په هغه سره به په دوهم نیم بیتي کي یو سېلاب زیات سوی وای او شعر به بې موازنې سوی وای.

(۶): (کي ئې) په (کې) ویل یا لیکل:
د (کي ئې) ویل په (کې) یو مثال په ورځنیو خبرو کي:

مېوه چي دي را وړه په کاسه کې واچوه! چي دا جمله اصلا (مېوه چي دي را وړله په کاسه کي ئې واچوه) ده.

(۷): د (که ئې) ویل یا لیکل په (کې):

د کېږ یو مثال په ورځنیو خبرو کې لکه:

زما کتاب پر مېز پروت دئ (کې) یا (که ئې) راوړې ښه به وي.

اوس به ئې د میرزا حنان په یوه شعر کې و ګورو (م هـ):

دا ګوهر به دي په کار سي کې په غوږ کړې (۱۲ سېلابه)
در تـــه و کـــړه حنـــان څـــه ویـــل ملیح (۱۱ سېلابه)

کـــې خبـــري کـړي دوې ستر ګي خود بخود (۱۱ سېلابه)
عجـــب نـــه ده پـــرتـــه وائـــي تـــل بـــیمار (۱۱ سېلابه)

د «جمعه» د زړه پرهار به هلته جـــوړ سي
کې رفـــو پـــه تـــار د زلفـــو کـــړي جراح

په لاندي بیت کې بیا حاجي جمعه بارکزي په یوه ځای کي (کې)
او په بل ځای کي (کي یې) را وړی دئ لکه (م هـ):

زړه مي در کئ زُما یـــاره ستا پـــه لاس (۱۲ سېلابه)
ستا رضا ده کې لوټل کړې که ئې پاس (۱۲ سېلابه)

په دوهم نیم بیتي کي لومړی (کې) او بیا (که ئې) راغلی دئ.
که څه هم دواړه په یوه معنا را غلي دي خو په (کې) سره شاعر
د شعر سېلابونه برابر کړي دي.

(۸) : (ښه ئې) په (ښې) ویل یا لیکل :

په ورځنیو خبرو کې د (ښه ئې) ویل په (ښې) یو مثال :

مېوه چې دې راوړه ښې پرې مینځه ! چې دا اصلاً (ښه ئې) پرې مینځه دئ .

(۹) : (دې ئې) په (دې) ویل یا لیکل :

احمد چې دې و لید ، ورور دې هم و لیدئ؟ (دې) اصلاً (دې ئې) دئ .

(۱۰) : (زه ئې) په (زې) ویل یا لیکل :

زې د زلفـــو و تـــاوونـــو تـــه حیران وم (۱۲ سپلابه)
چې دوو سترګو ئې بیا ښکار کړم په کاته (۱۱ سپلابه)

(۱۱) : (مې ئې) په (مې) ویل یا لیکل :

و کتو تـه یې د سترګو حیرانېږم (۱۲ سپلابه)
چې مې کل هډونه کړه رېزه رېزه (۱۱ سپلابه)

(۱۲) : (نه ئې) په (نې) ویل یا لیکل :
د میرزا حنان له کلامه (م هـ) :
چې نې خوري ، نه ئې نوم ښه نه د خدای پار وي (۱۲ سپلابه)
دغـــه هـــسي استـــغنا څـــه پـــه کـــار نـــه ده (۱۲ سپلابه)

(۱۳): (به ئې) په (بې) ویل یا لیکل:

څوک بـې را کړي ښـه احـوال د ګران هیواد (۱۱ سېلابه)
چي ښه ژوند مي په نصیب سي په زړه ښاد (۱۱ سېلابه)

دا ډول یو شمېر نوري کلمې هم سته چي تاسي به ئې پخپله پیدا کئ.

اوس چي مو سېلاب و پېژندی را ځئ چي قافیه او ردیف هم و پېژنو!

## ۲ ـ قافــیه:

قافیه پـه لغات کي وروستــه او د غاړي پـای تـه وایي. پـه نظمي (منظـومو) شعـرونـو کي د شعر هغي برخي ته ویل کیږي کوم چي د نظم (شعر) د هر بیت په پای کي را غلې وي.

په دې شرط چي هغه یوه کلمه به یو شان د ټولو بیتونـو د هـر دوهم نیم بیتي پـه پای کي تکرار نه وي را غلې. د قافیې مثال به په لاندي شعر کي و لولئ:

| | |
|---|---|
| پـــر مـا ملګري دي ګران | دوی دي پـــر ما مهربان |
| موږ یـــو ځای لوبي کوو | کړو تـوپ بازي پر میدان |
| کلـه دمبـــی کـــوو موږ | خپل موټرک کـــړو چالان (ان) |
| هـــم اکوبـــکو کـــوو | کله وایـــو ښـه چیستان |

یـــو چـــي کيـــسه وايي                 نور غوږ نيسي په ښه شان
کلـــه سنـــدري وايــــو                 خوشالــه ناست يو خندان
پـــر سـړک لـــوبي نکړو                 ځکـــه خطـــر دئ دځان

په لوړ شعر کي د هر دوهم نيم بيتي په پای کي ( ان ) توري راغلي دي چي د دغه شعر قافيه ده .

دلته به د قافيې يو بل مثال د عبدالقادر خان په يوه شعر کي و لولئ :

کـــه خبـــر مي شي لـــه خـــوږ زړګيه ته
شپـــه او ورځ بـــه پـــه نارو شي لکه زه
څـــو تـــاوونه باندي تېر شي چي پخيږي
د پـــخو پـــه حـــال خبر نـــه دي اومه
عـــام عـــالم لـــه حقيقته خبر نـــه شول
د تقـليد خنـــدا کـــوي لـــکه کـــانړه
ګوره بيا د کوم کم بخت سړي په خوله شو
سل ښکنځل را تـــه کوي چي غوارم خوله

د پورتني شعر د هر دوهم نيم بيتي په پای کي د ( زه ، مه ، ړه او له ) توري را غلي دي . دا چي په ( زه ، مه ، ړه او له ) کي ( ز ، مـ ، ړ او لـ ) زورکی لري ، دغه زورکی د شعر قافيه ده ، نه ( زه ، مه ، ړه او له ) .

د خوشحال خان دغه لاندنی شعر بیا د عبدالقادر خان د شعر څخه فرق لري لکه چي وايي:

چي مي خپل مين نيولی تر آغوش دئ
د جهان هوس مي واړه فراموش دئ
چي پرون يې اهانت د ميخورو کړ
نن هغه د ميو ډک سبو په دوش دئ
ساقي ترس د محتسب د درې نشته
چي بابا يې د مجلس سره می نوش دئ

موږ د مخه د قافيې په تعريف کي و ويل چي د قافيې توري هغه توري دي کوم چي د نظم د هر دوهم نيم بيتي په پای کي را وړل سوي وي، په دې شرط چي هغه يوه کلمه به په يو شان د ټولو بيتونو د دوهم نيم بيتي په پای کي تکرار نه وي را غلې. موږ وينو چي د پورتني شعر په ټولو دوهمو نيم بيتيو کي د (دئ) کلمه تکرار راغلې ده ځکه (دئ) د قافيې توری نه دئ. په پورتني شعر کي د اوږد يا مجهول (و) او (ش) توري را غلي دي يعني (وش) د پورتني شعر قافيه بلل کيږي او (دئ) ته د شعر رديف ويل کيږي.

په نظم کي سېلاب او قافيه تر هر څه مهم دي. د ټول نظم رواني او شرنګ د سېلاب او قافيې په اساس تلل کيږي. د ټول نظم رواني او شرنګ (خوند) د دغو دوو شيانو په اساس تلل کيږي.

ټولي هغه کلمې چي په يوه توري او يا حتا په دوو يا درېيو يو ډول تورو پای ته رسيږي خاماخا يو شان قافيه نه لري. د مثال په توګه:

۱ ـ پراته، الواته، کاته له ما ته، شا ته، غلا ته او دغه راز نورو کلمو سره يو شان قافيه نه لري.

دا ځکه چي د يوې خوا د پراته، الواته، کاته کلمې هره يوه، يوه يوه کلمه ده او تر (ـه) د مخه توری (ت) زورکی لري او د کلمې پر پای ئې خج را غلی دئ. د بلي خوا ما ته، شا ته، غلا ته يوه يوه کلمه نه دي او نه ئې پر پای خج را غلی دئ يعني:

(ما) ضمير او (ته) رابطه ده.
(شا) اسم او (ته) رابطه ده.
(غلا) اسم او (ته) رابطه ده.

۲ ـ دغه راز مېلمانه، کوربانه، بېلتانه له زمانه، پيمانه او آشيانه سره يو شان قافيه نه لري که څه هم د ټولو کلمو په پای کي (نه) را غلی دئ.

دا ځکه چي: د مېلمانه، کوربانه، بېلتانه او پيمانه او آشيانه کلمو په پای کي د (نه) په کلمه کي تر (ـه) د مخه توری (ن) يو

شان رږغ نه لري. په مېلمانه، کوربانه او بېلتانه کي د (نه) د کلمې پر (ن) باندي زورکی را غلی دئ، خو د پيمانه او اشيانه په کلمو کي تر (ـه) د مخه تـوری (ن) زور لري.

که د قافيې لپاره د کلمو په انتخاب کي احتياط و نه سي نو نظم (شعر) بې خونده کيږي.

د قافيې په خوښولو کي دي دا لاندي ټکو ته پاملرنه وسي:

لومړی- د پښتو ژبي مختلفي (ی، ي، ې، ۍ، ئ) ګاني: يعني هره (ي) چي د دغو پنځو (ي) ګانو له جملې څخه د لومړي بيت د قافيې د تورو په پای کي را غلې وي نو په نورو بيتو کي هم بايد هغه (ي) را غلې وي. که نه نو شعر به بې خونده وي.

يوه ټکي ته بايد پاملرنه و سي چي د لنډي (ي) او اوږدې (ې) په کارولو کي د ختيځي او لوېديځي لهجې تر منځ توپير سته. د مثال په توګه که د قلندر دغه لاندي شعر په ختيځه لهجه و ليکل سي دا ډول به وي:

هوسيـه و خورې د سترګو تورې!
پـر لـوړ ولاړه ښکاريان په ګورې
ښکاريان لا کله د ګور بنديان شوه
خــزې ولاړي دي تـــــشي تورې

که په لوېدیځه لهجه و لیکل سي ، نو به ښکاره د شعر په قافیه کي توپیر را سي لکه :

هوسیــه و خورې د سترګو توري !
پــر لــوړ ولاړه ښکاریان په ګورې
ښکاریان لا کله د ګور بندیان شوه
خــزې ولاړي دي تـــــــشي توري

بل ځای بیا د جهاني صاحب په یوه شعر کي چي کتاب ئې د کویټې چاپ دئ جهاني صاحب لیکي :
ګراني یو ورځ به مي د قبر سر تــه ویني ژاړې
زه به شهید یم رشتیا سوي به وي ټول خوبونه

خو د پېښور په چـاپ کي ئې ختیځې لهجې ته اړولی دئ او داسي ئې لیکلی دئ :

ګرانې یو ورځ به مې د قبر سر تــه وینې ژاړې
زه به شهید یم رشتیا سوي به وي ټول خوبونه

د کویټې په چاپ کي ویني ( د بدن ویني ) را غلي دي ، خو د پېښور په چاپ کي وینې د ( ګورې ) په معنا را غلي دي چي دا کار نه یوائې د شاعر د غوښتني خلاف دئ بلکي د شعر په معنا کي توپیر را ولي .

د (ی) یو بل مثال به د جهاني صاحب په یوه شعر کي و ګورو چي وايي:

آسمانــه بیا لکه چي نــوي افسانې جوړوې
چي سر پر سر مي پرهارونه پر سنې جوړوې
کــه دي مجنون د تــورو زلفو را بللی نه یم
وایــه حلـقه پــر حلقه چا ته زولنې جوړوې
خـوني منګول دي شاهدي د فیصلې ور کوي
د غــمازانــو پــه خــوله ولي بهانې جوړوې
شیخه اخــر بــه سي رسوا د میفروش پورونه
تر څو به پټې پــه خلوت کي میخانې جوړوې
در څخــه ورکي دي ساقي زما د ازل فیصلې
چــي د اغــیار د پــاره ډکي پیمانې جوړوې
اوښکي یې ستا له بې فریاده سوځېدلو نه دي
پتــنګه ولــي پــه لمبو کــي آشیانې جوړوې
لــه هــر قــدمه سره ښخ دي فریادي عرضونه
جنــونــه څـو لا په دې لار کي هدیرې جوړوې
د جــهاني رنځــوري شپې د ختمېدلو نه دي
طبیبــه ولــي رقیبانــو تــه پــلمې جوړوې

پــه پورتني شعر کي په (افسانې، سنــې، زولنې، او بهانې ...) کي د شعر تر پایه د قافیې توری مجهوله یا اوږده (ې) ده ځکه یې شعر هم ډېر خوندور دئ.

دوهم : د پښتو ژبي (و) :
که په يوه بيت کي معروف يا لنډ (و) لکه : کډو ، پډو او بازو را غلی وي په هغه بل بيت کي به هم معروف (و) وي او د ښارو، بيزو او نارو سره نه قافيه کيږي . په کډو ، پډو او بازو کي چي معروف يا لنډ (و) را غلی دئ او په بيزو ، ښارو او نارو کي مجهول يا اوږد (و) را غلی دئ نه سره قافيه کيږي .
ځيني وختونه د کلمې په پای کي (و) ساکن وي لکه : کنډو، لو، کټو ، د پيشو ميو او داسي نور . دغه ساکن (و) د لنډ يا اوږده واول (و) سره نه قافيه کيږي .

لاندي به يو څو مثالونه راوړل سي چي دغه لاندي توري که څه هم په پای کي ئې (و) راغلی دئ نه سره قافيه کيږي لکه :
بيزو له کډو سره ، د بيزو (و) اوږد (و) او د کډو (و) لنډ (و) دئ .

کټو د ښارو سره ، د کټو (و) ساکن کونسونانت (و) دئ او د ښارو دا اوږد (و) او واول دئ .

دريم ـ د پښتو ژبي (ـه ، ه) :
پام بايد و کړو چي هره (ه ، ـه) عين قافيه نه جوړوي .

لومړي ټکي ته چي بايد پاملرنه و لرو هغه دا دئ چي تر (ه ، ـه) د مخه توری زور لري که زورکی ؟

دوهم ټکی چي پاملرنه باید ور ته وسي هغه د کلمې یا سېلاب په پای کي خج دئ.

کله چي د ټولو بیتو د قافیو د (ه، ـه) ګانو تـرمخ توري یو زور و لري او بل زورکی یو شان قافیه نه جوړوي. د دې خبري مثال لکه: پیاله او ښځه. په پیاله کي تر (ـه) د مخه د (ل) توری زور لري اما د ښځه په کلمه کي تر (ـه) د مخه د (ځ) توری زورکی لري.

څلورم ـ خج (په کلمه کي پر یوه توري باندي د اواز زور):
خج څه ته وايي: خج د یوې کلمې پر یوه سېلاب د ږغ یا آواز زور تـه ویل کیږي. مثالونـه ئې لکه ښـه (د مرغه ښکه) او بـڼه (چهره). پـه بڼه (چهره) کي پر (ڼه) باندي خج یا د اواز زور را غلی دئ. پام دي وسي چي که په لومړي بیت کي د قافیې پر وروستۍ برخه خج را غلی وي نو دا کار دي د نظم تر پایه د قافیې لپاره مراعت سي.

بل دا چي پیاله، خاله، خاده، پایڅه، لانجه... د پاڅه!، را سه!، غورځه!... سره نه قافیه کیږي ځکه د پیاله، خاله، خاده، پایڅه، لانجه... ټولو کلمو پر پای خج را غلی دئ. د پاڅه، را سه، غورځه، واخله... کلمو پر پای خج نه دئ را غلی.

پنځم ـ د ژبې ګرامر او قواعد :
د ژبې ګرامر او قواعد به د قافیې د برابرولو لپاره نه قرباني کوو ، که څه هم په ځینو اشعارو کې دومره ډېره خرابي نه پېښوي اما په ځینو کې زیاته . دغه هم لکه د شعر د سېلاب خبره ، چې ویل مو د ټولو بیتو سېلابونه باید مساوي وي . بیا مو هم و لیدل چې د سېلاب لږوالی او ډېروالی هر هر ځای په شعر کې بېخوندي نه را ولي . د ګرامر یو مثال به په لاندې یوه بیت کې و ګورو :

راځــه یــاره کله را ځــه
ملنګ دې یمه د دروازه

د پورتني بیت په لومړي نیم بیتي کې د را ځه د کلمې او د دوهم نیم بیتي د دروازه د کلمې قافیې سره برابري دي . خو په دوهم نیم بیتي کې ( ملنګ دې یمه د دروازه ) د ژبې د قواعدو خــلاف جمله ده . که د ژبې قواعد مراعت سي ، هغه داسي ویل کېږي : ( ملنګ دې یمه د دروازې ) ، چې پدغه صورت کې ئې بیا قافیه نه برابرېږي .

که څه هم په نظمي یا منظوم کلام کې ځیني ګرامري تېر وتني دومره ډېري بې خوندۍ نه را ولي ، خو پــه پورتني بیت کې یــوه بله کوچنۍ تېر وتنه د ( یمه ) کلمه ده . ( یمه ) فعل دئ د مونث لپاره لکه چې وایي :
مونث ـ زه را غلې یمه .

مذکر ـ زه را غلی یم.

دا چي په دوهم نیم بیتي کي ملنګ مذکر دئ، نو باید (یم) ور ته را غلی وای. سربېره پر دې په منظوم کلام کي دا ډول تېر وتنو ته اجازه سته. دلته لاندي به په یوه بل بیت کي داسي تېر وتنه و ګورو چي په نظم کي ئې خرابي دومره نه معلومېږي لکه:

نــن مــي بیا مارغــه د فکر دی په شور
پــــروازونــــه کــوي ځــي پـــه هــره لـور

په دوهم نیم بیتي کي(لور) په اوړد (و) مذکر دئ او باید (هر) ور ته را غلی وای، نه(هـره). دا چي دلته یوه بل سېلاب ته اړتیا ده ځکه شاعر (هره) غوره کړی دئ. اصلا د ګرامر له مخي سړی وایي:
مونث ـ هره خوا.
مذکر ـ هر لور.

۴ـ تمرین: د لاندي شعر قافیه و ښیاست!

د مــــرغانـــــو د ویـــنا دا مـــعلومـــیـږي
چـــي خبرو بـــاندي څوک نه سړی کیـــږي
سړی نـــه دئ چي ئې کار د سړو نه دئ
پــــــه خبرو که هـــر څـــومره ښه پو هیږي

۳ ـ **ردیف**:دربیم ټکی چي په شعر کي مهم دئ، ردیف دئ. ردیف په یــوه شعر کي هغه کلمه ده چي د شعر پـه هر دوهم نیم

بیتي کي تکرار را غلې وي لکه په لاندي شعر کي:

کــه مېږی دئ کـه انسان دئ
لــه زحمت يې جوړ جهان دئ
اوريــځي خرړي وي که تــوري
کار و بــار يې ښه بــاران دئ

پــه لوړو دوو بیتو کي د هـر دوهـم نیم بیتي پـه پـای کي (دئ) تکرار را غلی دئ. د قافیې په تعریف کي موږ و ویل چي قافیه هغه توری یا توري دي چي د شعر د هــر دوهـم نیم بیتي په پای کي راغلي وي. هغه په دې شرط چي هغه کلمه چي نوموړی توری پکښي را غلی وي تکرار نه وي را غلې. په پورتني نظم کي موږ نه سو ویلای چي (ئ) د قافیې توری دئ. دا ځکه چي (ئ) د (د) سره ملګرې ده او (دئ) د شعر ردیف دئ او قافیه د لومړي او دوهم بیت په پای کي د جهان او باران په کلمو کي د (ان) توري دي. دغه توري بیا د شعر تر پایه را غلي دي.

۵ ـ تمرین: په لاندنیو بیتو کي د ردیف او قافیې مشق او تمرین ته په خپله دوام ور کړئ!

لمر، سپوږمۍ پــه پلوشو کي
د نــړۍ ســاز و ســامــان دئ
د بــزګــــر د کار لـــه فــیضه
رنګینه مــو دستــرخــوان دئ

شپـــانـــه مـيږي بيايي څرړ ته
پـــه رمـــې پـــسې روان دئ
د مـــاليـــار د يـــوم په څوكه
ښـــكلى شـوى ګلـستـان دئ
كـه مـوږ كښينو لاس تـر زنه
پـه سـكون كي مو تـاوان دئ
اى نـــژنـده لاس پـه كار شه
د كـاركـرو لـوړ نـښـان دئ

۶ ـ تمرين: د رحمان بابا لاندنى شعر و لولئ! رديف او قافيه ئې را و ښياست!

## د دنيا ښه والى

ښـــه ده ښـــه ده دا دنـــيا — چـــي تـوښه ده د عـــقبا
پـه دنيا كښي بدي نشته — كـــه بـدي نـه وي له تا
دنيـــا بـــحر دئ بـهـيږي — آيـــنې غـــونـدي صـــفا
وفـــادار لـــره وفـــا شـوه — جفـــا كـــار لـــره جـــفا
لـه يـوه مـخه يې درد وي — او لـــه بـل مـــخه دوا
كار همه واړه موقوف دئ — د ســــړي پـــه مـدعا
(رحمان بابا)

## په پښتو کي د شعر ډولونه:

اوس چي مو سېلاب، قافيه او رديف و پېژندل راځئ چي د پښتو شعر ډولونه و پېژنو.

په پښتو کي شعر ډېر ډولونه لري، خو دلته به د شعر دغه لاندي ډولونه د مثال په توګه راوړو لکه:

۱ ـ لنډۍ:

۲ـ غزل:

۳ـ مثنوي:

۴ـ آزاد شعر:

## ۱ ـ لـــنډۍ:

- د لنډۍ شاعر نه دئ معلوم زياتره داسي معلومېږي لکه د ښځو له خوا چي نارينو ته ويل سوي وي.
- د لنډۍ لومړی نيم بيتی ۹ (نهه) سېلابه او دوهم نيم بيتی ئې ۱۳ سېلابه وي.
- لنډۍ زياتره په (نه) يا (مه) پای ته رسېدلي وي لکه:

**د لنډۍ مثال:**

که په ميوند کي شهيد نه سوې
خدای ږو لاليه بې ننګۍ ته دي ساتينه

د پورتنۍ لنډۍ سپلابونه:

که ـ په ـ مَيـ ـ وَند ـ کي ـ شَـ ـ هيد ـ نه ـ سوې (نهه سپلابه)

خدای ـ ږو ـ لا ـ لَـ ـ يه ـ بې ـ نَنـ ـ ګۍ ـ ته ـ دي ـ سا ـ تيـ ـ نه (ديرلس سپلابه)

۷ - تمرين: د لاندي لنډيو سپلابونه پيدا کئ!

ټوټې ټوټې پـه تورو را سې
چي پرهارونه دي ګنډم خولـه در کومه

سر مي لــه تن څخه جلا کئ!
که مي بګړۍ د بې ننګۍ تـــړلې وينه

ارمان دي نه کړي هغه ميندي
چي خپل اولاد د وطن زيار تـه لويوينه

د لويو غــرو سيل مـي و کړ
اوس مي ياديږي د شينکي وطن باغونه

## ۲ ـ غـــزل:

غزل دغه لاندي خواص لري:

- غزل هغه نظم دئ چي د بيتونو شمبر ئې د پنځو څخه تر پنځلسو پوري وي.

- په لومړي بیت کي ئي لومړی نیم بیتی او دوهم نیم بیتی دواړه د قافیې په یو ډول توي یا تورو پای ته رسیږي.
- په غزل کي د هر دوهم نیم بیتی په پای کي یا د قافیې توري را ځي او یا (ردیف).

د غزل مثالونه:

د غزل لومړی مثال:

ستـــا د عشق له وینو ډک سوه ځګرونه
ستا په لاره کښېي بـايـــلي زلمي سرونه
تــاتــه را سمه زړګی زمــا فـــارغ سي
بـــېله تـــا مي انـــدېښني د زړه مارونه
کـــه هر څو مي د دنيا ملکونه ډېر سي
زما به هېر نه سي دا ستا ښکلي باغونه
د ډهلي تـخت هېرومـــه چي را ياد سي
زما د ښکلي پښتونخـــوا د غرو سرونه

د پورتني شعر په لومړي بيت کي د لومړي نيم بيتي او دوهم نيم بيتي قافيه سره برابره ده، چي هغه په (ځګرونه) او (سرونـه) کي د (ونـه) توري دي. بيا نو د هر دوهم نيم بيتي په پای کي د (سرونه، مارونه، باغونه او سرونه) په کلمو کي (ونه) د دغه شعر قافيه ده.

د غزل دوهم مثال:

نــا پوهي غــونــدي بــل نشته په جهان رنځ
اختــه مــه شه څوک په هسي بې درمان رنځ
چي نه خپله علاج کړای شي نه بل پوه کړي
چاره نــه لــري بــې مــرګه د حــيوان رنځ
کــوم وطــن چــي ئې د علــم برخه لږ وي
هــم لـــه ځمکي نه ورځي هم له اسمان رنځ
ځــان ځــاني لــويــه بـــلا ده و هر قام ته
خــدای دي نه ور ولي چاته داسي شان رنځ
پــه يــوه زړه چـــي خپلوانو سره ژوند کړي
خــود بــه ورک وي له دې ټولو د ارمان رنځ
کـــه په هر څه اړ څوک لاس ته د دښمن وي
تــر دې پــورتــه پر دنيا نشته بل ګران رنځ

په دغه دوهم مثال کي د شعر د لومړي نيم بيتي او دوهم نيم بيتي پــه پای کي د (رنځ) کلمه را غلې ده چي د شعر رديف ده. دغه رديف (رنځ) د شعر تــر پــايــه ادامــه لري. تــر رنځ د مخه د (درمان، حيوان، اسمان، شان، ارمان او ګران) پــه کلمو کي د (ان) توري د شعر قافيه ده.

۸ ـ تمرین: د لاندي غزل ردیف او قافیه پیدا کئ!

## د هستۍ قبر

دا دي را غلل د خزان بادونه ورو ورو
رژوي مي د ځوانۍ ګلونه ورو ورو
خود آګاه د خاموشۍ غیږي ته درومي
چي غوغا تې[۱] تخنېدل رګونه ورو ورو
د مرګي قاصد مي غم د مستۍ غواړي
را ته ښیي د لحد خوبونه ورو ورو
چي یې ځاځکی د کوثره سره سیال و
زماني غلیم یې وړي خومونه ورو ورو
نن د هوښ له دوږخي سیني را وځي
مدهوشۍ چي پاځول خیالونه ورو ورو

(۱) تې: د پورتني غزل په څلورم نیم بیتي کي (تې[۱]) را غلی دئ چي اصلاً (ته ئې) دئ.

## ۳ ـ مثنوي:

مثنوي دغه لاندي خواص لري:

- د مثنوي د بیتونو شمېر کېدای سي چي ډېر زیات وي.
- په مثنوي کي هر هر بیت ځانته جلا قافیه لري.
- په مثنوي کي د یوه بیت د لومړي نیم بیتي قافیه د دوهم نیم بیتي د قافیې سره برابره وي.

- په مثنوي کي کېدای سي چي دوه درې يا څلور بيتونه يو ډول قافيه و لري.
- د مثنوي د بيتونو د سېلابو شمېر بايد په ټولو بيتو کي سره برابر وي.

د مثنوي مثال:

| | |
|---|---|
| تـوتـي تـوتـي تـوتـي | پر چکس ناست يې چتې |
| لــږ وکــړه څــو خبري | غــمونــه مي کــړه لــري |
| تـوتـي ډوډۍ غــواړي | يــوه هــګـۍ غــــواړي |
| زه مــاليــــده ورکـــوم | ډېـــره خـــوږه ورکـــوم |
| شپـــېلۍ کـــولي شـي | تـــــول خنـــدولي شي |

د پورتني نظم په لومړي بيت کي د لومړي او دوهم نيم بيتي په پای کي د توتي او چتې په کلمو کي لنډه (ي) را غلې ده. د دغو دواړو نيم بيتو قافيه (ي) ده.

دغه ډول د دوهم او درېيم بيت د دواړو نيم بيتيو پـه پـای کي لـنډه (ي) د دواړو بيتو قافيه ده.

په څلورم بيت کي (ور کوم) د دواړو نيم بيتيو رديف دي. د دغو دوو نيم بيتيو قافيه د (ماليده او خوږه) په کلمو کي (ه) ده. قافيه اصلاً تر (ه) د د مخه توري (زور) دئ.

په پنځم بيت کي (شي) د دواړو نيم بيتيو رديف دي. په (کولي

او خندولي ) کلمو کي ( ولي ) قافيه ده .

**د مثنوي يو بل مثال د جهاني صاحب له ارغوان څخه يو څو بيتونه:**

پـخوانيو زمـانــو کـي يـو پاچا وو
هم ديندارە هم مالـک د ښې دنيا وو
يوه ورځ پاچا په ښکار پسې وو تللی
له لښکر سره دښتــونـو تــه و تــلی
مست له زوره مست لـه ميو د قدرته
بــې پــروا هــم لــه دنيا هم له قيامته
اورول يــې هــري خــوا تــه رسا غشي
دا يې نه کتل چي څوک ولي يا څشي
هـري خوا تـه چي هـوسۍ منډه و هله
تــر سينه يـې د پــاچـا غــشي و تــله

د لومړي او دوهم نيم بيتي قافيه د ( پاچا او دنيا ) په کلمو کي د ( ا ) توری ده او ( وو ) رديف دئ .

د دريم او څلورم نيم بيتي قافيه د ( تللی او وتلی ) په کلمو کي د ( لی ) توري ده .

د پنځم او شپږم نيم بيتي قافيه د ( قدرته او قيامته ) په کلمو کي د ( ته ) توري ده .

د اوم او اتـم نیم بیتي قافیه د (غشي او څشي) پـه کلمو کي د (شي) توري ده.

نهم او لسم نیم بیتي قافیه د (وهله او وتله) څخه (له) ده.

نهم تمرین: د لاندي مثنوي قافیه و ښیاست!

## مهرباني موري

موري تا لوی کړم د غیرت په زانګو
تـا یـم روزلـی د هـمت پـه زانګو
زمـا ژړا نـه تـا ژړا کـړې ده
زمـا خنـدا نـه تـا خندا کړې ده
مـوري پـوهېـږم هېـرولی نه شم
ستـا زحـمتونـه زه ویـلی نـه شم
تـا ډېـر ګاللـي کـړاونـه په ما
خـوښي دي تـل غـواړمه زه پـه دنیا
ای زمـا ګـراني قـدر داني مـوري
زمـا د میـني مـهربـانـي مـوري

## ۴ ـ آزاد شعر:

آزاد شعر هغه شعر دئ چي نه قافیه پکښي ستـه، نه سېلاب لري او نه بیتونه بلکي د لنډو لنډو جملو په شان لیکل کیږي.

ادب پوهان د شعر تعریف داسي کوي: شعر هغه کلام دی چي د لوستونکو او اورېدونکو احساسات را و پاروي. د دې تعریف له مخي نو آزاد شعر که څه هم چي د نظم قوانین پکښي نه سته هم کولای سي چي د اورېدونکو او لوستونکو احساسات را و پاروي لکه دغه لاندي آزاد شعر:

## سارانۍ مینه

ما به ویل چي ما به نه مچوې
ما ته په غېږ کي ځای مه را کوه
زما سارانۍ سینه لا میني ازمېیلې نه ده
پکي د چا د میني شمع لګېدلې نه ده
شونډي مي هم لا د ماشومو په څېر
د چا تودو شونډو لیدلي نه دي
زه پوهېدم که مي سینه کي یو ځل
د چا د میني لمبه بله سوله
بیا مي اورونه د وژلو نه دي
بیا مي وعدې د ماتولو نه دي
خو ته هغسي نه وې
ته زما په شاني سارانۍ را لویه سوې نه وې
ستا بازاري ستا سودا ګري غېږي
یوازي زه او زما مینه لوبولي نه وو
معصومو سترګو دي وعدې د میني ډېري کړي

نازکو شونډو دي زر ځلي په وفا لوړلي
ته به زما نه سې ، نه به زما مينه د ځان و بولې
خو زما په زړه کي لګېدلې شمع
د بلي ميني په اور نه سوځيږي

اوس چـي مـو د شعر څـو مثالونه و پېژندل ، کولای سئ چي د نورو معلوماتو لپاره په خپله نور کتابونه و لولئ او د شعرونو نور ډولونه  هم زده کړئ.

## د شعر اغېزه د انسان په ژوندانه کي:

پدې کي شک نه سته چي شعر د اورېدونـکي يا لوستونکي احساسات را پاروي. احساسات په دې معنا چي اورېدونکی يا لوستونکی به د  شعر په اورېدلو يا لوستلو سره د دغو لاندنيو احساساتو تر تاثير لاندي را ځي چي:

۱ ـ د خوشالۍ احساس کوي
۲ ـ د خواشينۍ احساس کوي
۳ ـ په جنګ لاس پوري کوي
۴ ـ د ميني يا عشق احساس به کوي
۵ ـ د يو څه په اړه به دلچسپي ښکاره کوي
۶ ـ د توهين يا تحقير احساس به کوي
۷ـ د ارامۍ او سولي احساس به کوي

د دغو ټولو احساساتو لپاره به دلته لاندي یو یو مثال راوړل سي:

۱ ـ د خوشالۍ لپاره شعر:
د دغــو شعـرونو لوستل او یا اورېدل سړي ته د خوښۍ او خوشالۍ احساس پیدا کوي لکه په لاندي لنډۍ کي:

خط مي لیکه اشنا مي راغی
له خوشالۍ نه مي قلم په خندا شو نه

۲ـ هغه شعر چي انسان غمګینه کوي:

دلته به د جهاني صاحب د یوه شعر څو بیتونه راوړل سي:

د ژوندون وحشي موجونو
لـه اشنا مېني بــېل کړی
د زمــان یــاغي بــادونــو
بــل جــهان ته یم را وړی
را یــادیږي مـــي جونګړه
را یــادیږي یـــې خیالونه
هسي لیري را تـه ښکاري
لکه ورک ستـــړي خوبونه

۳ ـ جنګي (حماسي) شعر:

دا ډول شعرونه د حماسي يا جنګي شعرونو په نامه بولي. تاسي ته معلومه ده چي زمونږ ګران هيواد افغانستان د ډېر پخوا څخه د بېګانوو تر يرغلونو لاندي راغلی دئ، نو شاعرانو هم د خپلو خلکو د ازادۍ غوښتونکو احساسات د را پارولو لپاره حماسي شعرونه ويلي دي لکه:

څــو وا نــه خــلي لــه غــليمه انتقام
مرد نه خوب کړي نه خواړه خوري نه ارام

د دغو شعرونو د جملې څخه دلته غواړم هغه لنډۍ چي ملالۍ پېغلي د ميوند په جنګ کي د خپلو افغاني ورونو د احساساتو د را پارولو لپاره ويلې ده راوړم. د دې پېغلي رږغ د دې د افغاني ورونو احساسات داسي را و پارول چي د انګرېز څخه ئې هغه بايللی جنګ و ګاټه لکه چي وايي:

که په ميوند کي شهيد نه سوې
خدای ږو لاليه بې ننګۍ ته دي ساتينه

او يا

خبـري ډيـري پــه کار نه دي
زه فيصــله د تــوري خوله باندي کومه

۴ـ عشقي شعر : لکه :

خوږې شونډې دي شکري نه دي څه دي
ښکلي غــاښ دي مرغلري نه دي څه دي
چې تسخير پــه تورو سترګو کا د زړونو
سياه چشمي ســهر ګـــري نه دي څه دي
چې د زلفـو پـه ځنځير بې زمرى بند کړ
هـوسۍ ستــرګي زوروري نــه دي څه دي

۵ ـ هغه نظمونه چې د نورو د دلچسپۍ د را جلبولو لپاره ويل کيږي: دغه شعرونه يا نظمونه کوچني هلکان يا کوچنۍ نجوني د لوبو په وخت کي د يوې مسابقې لپاره وايي.

۶ ـ هغه شعر چي څوک په توهين يا خواشينى کيږي:

کله کله کوچنيان په کوڅو او باڼډو کي يو بـل ته د توهينولو لپاره ځيني سپکي کلمې د نظم په ډول وايي. په دغه لاندي لنډۍ کي ئې هم يو مثال لوستلاى شئ:

خداى دي تر دغه لا بدتر کړه
چي د کم اصله بوټي ګل دي بوياونه

۷ ـ د ارامۍ یا سولې د احساس لپاره:
دلته بیا هم د جهاني صاحب د یوه اوږده شعر یو څو بیتونه را وړم:

ځوانه دا څوک یې چې مرمۍ اوروې
د خپل نیکه او د ابا پر کلي
دې هدیره کې دې خپلوان پراته دي
څوک یې پرون څوک یې پخوا ویشتلي
پربېږده چې بیا د شنه اسمان پر لمن
سپوږمۍ ته ستوري امېلونه را وړي
بیا د ادم رباب نغمې ویښې کړي
د میني خوب ته تعبیرونه راوړي

د تمرینونو جوابونه:

د لومړي تمرین جواب:

کلـــه سنـــدري وايـــو   کَـ ـ له ـ سَن ـ دَ ـ ري ـ وا ـ یو

( ۷ سپلابه )

خوشالـه ناست یو خندان   خو ـ شا ـ له ـ ناست ـ یو ـخَن ـ دان

( ۷ سپلابه )

د دوهم تمرین جواب:

غومبـــر وهـــه کوتري   غوم ـ بر ـ وَ ـ هه ـ کَو ـ تَ ـ ري

(۷ سپلابه)

نـخپـــړه بـــخـــتـــوري   نَ ـ خپـ ـ ړه ـ بَخـ ـ تَ ـ وَ ـ ري

( ۷ سپلابه )

اوازدي خوږ لګیږي   آ ـ واز ـ دي ـ خوږ ـ لَ ـ ګیـ ـ ږي

( ۷ سپلابه )

زړګی مي پرې ښه کیږي زړ ـ ګی ـ مي ـ پرې ـ ښه ـ کیـ ـ ږي

( ۷ سپلابه )

لـــږ تـــاوه شـــه ګـــډېږه   لږ ـ تا ـ وه ـ شه ـ ګَ ـ ډې ـ ږه

( ۷ سپلابه )

غـــومبر وهه تاوېږه   غوم ـ بر ـ وَ ـ هه ـ تا ـ وې ـ ږه

( ۷ سپلابه )

د دریېیم تمرین جواب:

نــن مــي بیا مارغــه د فکر دی په شور

نن ـ مي ـ بیا ـ مار ـ غه ـ د ـ فِ ـ کر ـ دی ـ په ـ شور (۱۱)

پــروازونــه کــوي ځــي پــه هــره لــور

پر ـ وا ـ زو ـ نه ـ کَ ـ وي ـ ځي ـ په ـ هَ ـ ره ـ لور (۱۱)

نه پوهېږم څه ترې ورک دي او څه غواړي

نه ـ پو ـ هې ـ ږم ـ څه ـ ترې ـ ورک ـ دي ـ او ـ څه ـ غوا ـ ړي (۱۲)

چــي تــپوس کــوي لــه پـلي او له سپور

چي ـ تَ ـ پوس ـ کَ ـ وي ـ له ـ پ ـ لي ـ او ـ له ـ سپور (۱۱)

مــا د عــقل پــه تــار بند کړل پروازونه

ما ـ دَ ـ عَ ـ قل ـ په ـ تار ـ بند ـ کړل ـ پر ـ وا ـ زو ـ نه (۱۲)

ده د عــقل مــزي و شــلــول پـــه زور

ده ـ د عَ ـ قل ـ مَ ـ زي ـ و ـ شلَ ـ ول ـ په ـ زور (۱۱)

کــه هــر څــو یې لوړ پرواز نه ګرځومه

که ـ هَر ـ څو ـ یې ـ لوړ ـ پر ـ واز ـ نه ـ ګر ـ ځَ ـ و ـ مه (۱۱)

غــوږ تــه نــه پــرېږدي زمــا پندونه نور

غوږ ـ ته ـ نه ـ پرېږ ـ دي ـ زَ ـ ما ـ پَن ـ دو ـ نه ـ نور (۱۱)

د ځلورم تمرين جواب:

د مــرغانـــو د ويـنا دا مــعلومــيږي
چــي خبرو بــاندي څوک نه سړی کيــږي
سړی نــه دئ چي يې کار د سړو نه دئ
پـــه خبرو که هــر څومره ښه پو هيږي

پورتني شعر ته چي ځير سو، وينو چي:
د لومړي دوهم او ځلورم نيم بيتيو په پای کي د (معلوميږي، کيږي او پوهيږي) کلمې را غلي دي. وينو چي په دغو درو سرو کلمو کي د (يږي) توري را غلي دي او دغه (يږي) توري د شعر قافيه ده.

د پنځم تــمرين جــواب: د لاندي شعر رديف او قافيه پيدا کئ!

لمر، سپوږمۍ پــه پلوشو کي
د نــړۍ ســاز و ســامــان دئ
د بــزګـــر د کار لـــه فــيضه
رنګينه مــو دستــرخــوان دئ
شپـــانـــه مــيږي بيايي ځړ ته
پـــه رمـــې پـــسې روان دئ
د مـــاليـــار د يـــوم په څوکه
ښـــکلی شــوئ ګلــستـــان دئ

که موږ کښېنو لاس تر زنه
په سکون کي مو تاوان دئ
ای نژنده لاس په کار شه
د کارګرو لوږ نښان دئ

په پورتني شعر کي (دئ) د شعر رديف دئ ځکه چي د هر دوهم نيم بيتي په پای کي په يوه معنا را غلی دئ. د دغه شعر قافيه د (ان) توري دي چي په هر دوهم نيم بيتي کي تر رديف د مخه د (سامان، دسترخوان، روان، ګلستان، تاوان او نښان) په کلمو کي را غلي دي.

د شپږم تمرين جواب:

ښه ده ښه ده دا دنيا
چي تونه ده د عقبا
په دنيا کښي بدي نشته
که بدي نه وي له تا
دنيا بحر دئ بهيږي
ايني غوندي صفا
وفادار لره وفا شوه
جفا کار لره جفا
له يوه مخه يې درد وي
او له بل مخه دوا
کار همه واړه موقوف دئ
د سړي په مدعا

د دغه شعر قافيه د (دنيا، عقبا، تا، صفا، جفا، دوا او مدعا) په کلمو کي چي د (الف) توری راغلی دئ د شعر قافيه ده. دغه شعر رديف نه لري، ځکه چي تر قافيې وروسته کومه بله کلمه

نه ده را غلې.

د اووم تمرين جواب:

ټوټې ټوټې په تورو را سې
چې پرهارونه دي ګنډم خوله در کومه

ټو - ټې - ټو - ټې - په - تو - رو - را - سې
چي - پر - ها - رو - نه - دي - ګن - ډم - خوله - در - کَ - وَ - مه

سر مي لـــه تن څخه جلا کئ
که مي بګړې د بې ننګۍ تـــړلې وينه

سَر ــ مي ــ لـــه ــ تَن ــ څَ - خه ــ جَ ــ لا ــ کئ
که ــ مي ــ بَګ - ړې ــ دَ ــ بې ــ نَن - ګۍ ــ تَ - ړَ ــ لې ــ ويـ
ــ نه

ارمان دي نه کړي هغه ميندي
چي خپل اولاد د وطن زيار تــه لويوينه

اَر ــ مان ــ دي ــ نه ــ کړي ــ هَ ــ غه ــ ميـن ــ دي
چي - خپل ــ اَو ــ لاد ــ دَ ــ وَ - طن ــ زيار ــ ته ــ لو ــ يَ ــ ويـ
ــ نه

د لویو غــرو سیل مـي و کړ
اوس مي یادیږي د شینکي وطن باغونه

دَ ـ لو ـ یو ـ غرو ـ سَـ ـ یل ـ مي ـ وَ ـ کَړ
اوس ـ مي ـ یا ـ دي ـ ږي ـ دَ ـ شینـ ـ کي ـ وَ ـ طَن ـ با ـ غو ـ نه

د اتم تمرین جواب:

دا دي را غلل د خزان بـادونه ورو ورو
رژوي مـــي د ځــوانـــۍ ګلونه ورو ورو
خود آګاه د خامــوشۍ غیږي ته درومي
چي غوغا تــې تخنېدل رګونه ورو ورو
د مرګي قاصد مي غم د مستۍ غواړي
را تــه ښیـــي د لــحد خوبونه ورو ورو
چــي یــې څاڅکی د کوثره سره سیال و
زمــاني غلیم یې وړي خُومونه ورو ورو
نــن د هــوښ له دوږخي سینې را وځي
مدهوشۍ چي پــاځول خیالونه ورو ورو

د پورتني غزل ردیف (ورو ورو) دئ، ځکه چي د شعر تر پایه د هر دوهم نیم بیتي په پای کي په یوه معنا تکرار را غلی دئ. د شعر قافیه د (ونــه) تــوري دي چي د (بادونــه، ګلونـه، رګونـه،

خوبونه ، خومونه او خیالونه) د کلمو په پای کي را غلي دي.

د نهم تمرین جواب:

موري تا لوی کړم د غیرت په زانګو
تــا یــم روزلــی د هـمت پــه زانګو
زمـــا له ژړا نــه تـــا ژړا کـــړې ده
زمـــا خنـــدا نــه تـا خندا کړې ده
مـــوري پـــوهېـــږم هېـــرولی نه شم
ستـــا زحـــمتونـــه زه ویـــلی نـه شم
تـــا ډېـــر ګاللـــي کـــړاونـــه په ما
خـــوښي دي تـــل غوارمه زه پـه دنیا
ای زمـــا ګــراني قـــدر داني مـوري
زمـــا د میـــني مـــهربـانـــي مـوري

د لومړي او دوهم نیم بیتیو قافیه د (ت) توری دئ او (په زانګو) ئې ردیف دئ.

د دریم او څلرم نیم بیتي قافیه (ا) دئ او (کړې ده) ئې ردیف دئ.

د پنځم او شپږم نیم بیتي قافیه (لی) دئ او (نه شم) ئې ردیف دئ.

د اوم او اتم نيم بيتي قافيه ( ا ) دئ چي د ( ما او دنيا ) په کلمو کي را غلی دئ .

د نهم او لسم نيم بيت قافيه ( ني ) ده او ( مور ) ئې رديف دئ .

---

په پښتو کي د پنځو ( ی ، ي ، ې ، ۍ ، ئ ) ګانو لـه جملې څخه لنډه ( ي ) او اوږده ( ې ) د واول ( ږغ لرونکي لکه : ( الف ، لنډ و ، اوږد و ، لنډه ي ، اوږده ې ، زور ، زېر ، پېښ او زورکی ) تورو له جملې څخه دي . لنډه ( ي ) کله کله واول او کله کله کونسونانت ( بې ږغه لکه : ت ، خ ، م ، ن ، ک ... ) وي ، خو اوږده ( ې ) تل واول وي او کونسونانت نه را ځي . نرمه ( ی ) ، درنه ښځينه ( ۍ ) او درنه فعلي ( ئ ) تل کونسونات وي .

په پښتو کي ( و ) دوه ډوله دئ . يو ئې لنډ او بل ئې اوږد ( و ) دئ .

۱ ـ معروف يا لنډ ( و ) : لکه په کډو ، بازو ، تارو ، کاهو او نورو کلمو کي .

۲ ـ مجهول يا اوږد ( و ) : لکه په بيزو ، ښارو ، پشو ، کالو او نورو کلمو کي .

لنډ (و) او اوږد (و) دواړه واول دي، خو لنډ (و) د کنسونانت

په ډول هم را ځي اما اوږد (و) د کونسونانت په ډول نه را ځي.

واول (ږغ لرونکي): هغه توري یا نښي دي چي په کلمه کي یو بې ږغه توري ته حرکت ور کوي او یا ویلای سو چي دوه کونسونانت توري سره نښلوي.

کونسونانت (بې ږغه): هغه توري دي چي په کلمه کي بېله د واول له مرستي ږغ نه سي ور کولای.

# د لیکونکي لنډه پېژندنه



عبدالعلي رسول زاده په ۱۳۲۶ لمریز کال د کندهار ولایت په دربیمه ناحیه کي دې نړۍ ته سترګې خلاصي کړلې. لومړنۍ زدکړې ئې په اوه کلني کي د کندهار په مشرقي ښوونځي کي پیل کړلې. پسله شپږو کلو څخه د نوموړي ښوونځي څخه فارغ سو. تر هغه وروسته ئې د میرویس نیکه په لېسه کي زدکړې پیل کړلې. په ۱۳۴۵ لمریز کال کي ئې د کابل پوهنتون د ښووني او روزني په پوهنځي کي د ریاضي او فزیک په څانګه کي زدکړې پیل کړلې. په ۱۳۴۹ لمریز کال کي ئې د کندهار په عالي دارالمعلمین کي د ریاضي او فزیک او مسلکي مضمونونو په تدریس پیل و کړ. په ۱۳۵۹ کال کي په هیواد کي د نا خوالو له امله سویډن هیواد ته مهاجر سو. په سویډن کي ئې ۳۳ کاله په سویډني ښوونځیو کي د پښتو ژبي د زدکوونکو سره د ښوونکي په توګه نه یواځې د ښوونځي د مضامینو مرستي کړې دي بلکي پښتو ئې هم ور ته تدریس کړې ده. په دغو کلو کي ئې د پښتو ژبي زدکوونکو ته یو زیات شمېر تدریسي کتابونه او تدریسي مرستندوی مواد لیکلي دي چي د هغو له جملې څخه یو همدغه کتاب دئ. د دغو کتابو څخه د نړۍ په زیاتو هیوادو کي ګټه اخیستنه کېده او اوس هم کیږي. په ۲۰۰۲ م کال کي د سویډن د پوهني د وزارت له خوا د پښتو انټرنیټي پاڼي www.pashto.se چاري هم ور پر غاړه سوې.